د لوړو زده کړو وزارت

التقوا د لوړو زده کړو موسسه

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځۍ

د قضا او څارنوالی څانګه

(لیسانس دورې پایلیک)

# د امنیتي تدابیرو ځانګړتیاوې

Ketabton.com

ترتیب کوونکی: سید معاذ الله

لارښود استاد: ننګیالی (مصؤن)

تحصیلي کال ............................................................................1401 هـ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

**زه خپلې دغه څوماتې اوګوډې کرښې چې ممکن ګډې وډې هم وي هغوته ډالۍ کوم چا چې زما لپاره خپل دسرويښته سپین کړه خپل ځان يې دشمعې په څيرويلې کړه خو ما ته يې ژوند واوبښل:**

**هوکې:**

**خپل مور او پلار مې يادوم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خلاصه

امنيتي تدابير د اجتماعي عكس العملونو له جملې څخه يو ډول دی چې دمحكمې په حكم دتورن دتربيت او اصلاح لپاره او دتورن دعادي ژوندانه سره دبېرته پيوستون لپاره تطبيقېږي،معمولا ديو جرم عقوبات په دوه ډوله ورکول کېږي چې يو د جزا له لارې او بل دامنيتي تدابيرو له لارې،امنيتي تدابير د خورا لوی اهميت درلودونکي دي چې که چېرې په يوه ټولنه کې په درست شکل تطبيق شي نو پرته له شکه چې د هغه ټولنې نيمايي جرمونه ختميږي او هغه کوم کسان چې جرمونه کوي نو دهغوی شخصيت هم په داسې شکل روزل کېږي چې په اينده کې ترينه يو اصلاح شوی شخص جوړېږي.دامنيتي تدابيرو هدف په ټولنه کې دمجرمينو او هغه اشخاصو د شخصيت اصلاح ده چې جرم يې لا نه وي کړی خو ممکن دجرم مرتکب وګرځي لکه يو ماشوم په خطرناک حالت کې وليدل شي نو ددې ماشوم لپاره داسې امنيتي تدابير ټاکل کېږي چې دا دجرم مرتکب نه شي.

په دې څېړنه کې به دامنيتي تدابيرو په خصوصياتو رڼا واچوو هر يو خصوصيت به يې بيل بيل واضح کړو او وبه يې پيژنو.په دې څېړنه کې مو دکتابتوني تګلارې څخه استفاده کړې او له بيلابيلو معتبرو کتابونو څخه مو په کې ګټه اخيستې ده.

په پايله کې دا ويلای شو چې امنيتي تدابير ديوې سالمې ټولنې لپاره ډېر ضرور دي او پرته دامنيتي تدابيرو دتطبيق څخه ديوې سالمې ټولنې رامنځته کول هسې يو خيال دی،پکار ده چې څنګه په قوانينو کې امنيتي تدابير ذکر شوي دي په هماغه شکل او په هماغه ترتيب بايد تطبيق شي ترڅو ټولنه دجرمونو څخه پاکه او مبرا وي.

دامنيتي تدابيرو د ځانګړتياوو څېړنه يو شخص په دې پوهه کوي چې امنيتي تدابير څه موخې لري او که تطبيق شي ايا امکان لري چې ټولنه دجرمونو څخه پاکه شي؟او همدارنګه که تطبيق نه شي نو څه ستونزې او مشکلات به يوې بشري ټولنې لپاره وزيږوي،نو په دې مونوګراف کې مو دامنيتي تدابيرو په خصوصياتو يا ځانګړتياوو باندې بحث کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مننليک**

دمونوګراف دسختې او ستړې کوونکې وجيبې په ځای کول دمحصل دتوان څخه پورته خبر ده ،يقيني ده چې هر محصل يو لارښود او رهنما استاد ته اړتيا لري تر څو استاد هغه محصل له تخطيو او ښوييدنې څخه وژغوري،نو ددې مونوګراف په ليکلو کې ما هم يو لارښود استاد درلود چې قدرمن استاد ننګيالی مصؤن نومېده،استاذ ډېر زيار راسره په دې مونوګراف کې وويست مونوګراف يې څو ځلې ولوستل او څه ناڅه يې معيار ته برابر کړه له استاد څخه ممنون يم چې سره دسختو زياتو مصروفياتو يې هم زما مونوګراف ته غاړه کېښوده او له زړه يې راسره تر اخره همکاري او تعاون وکړه استاد دې ژوندی وي او درب څخه ورته دلا ډېر خدمت دعا هم کوم.




https://youtu.be/I_fE6YOt2M8

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تقریظ

محترم سید معاذ الله د(\سیدنبي) زوی د التقوا د لوړو زده کړو د مؤسسې د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي د (1401) لمریز کال د څلورم ټولګي د دویم سمستر د قضاء او څارنوالی د څانګې څخه فارغ

چې د پوهنځي د اداري له خوا ورته (د امنیتي تدابیرو څانګړتیاوې) تر سرلیک لاندې د مونوګراف موضوع ورسپارل شوې وه.

نوموري محصل د خپل مونوګراف موضوع په لیکلو کې د مختلفو علمي منابعو څخه استفاده کړې او د مونوګراف په غنا مندی کې یې د هیڅ ډول هاند او هڅې څخه دریغ نه دی کړی، روان پښتو الفاظ او کلمات یې پکې استعمال کړي او د لارښود استاد د مشورو څخه یې هم استفاده کړې، د مونوګراف موضوع یې د څلور کلنې تحصیلي دورې له پاره د یو تحصیلي سند په حیث کافي بولم او د زیاتو هڅو څخه یې مننه کوم او د مونوګراف موضوع یې تائیدوم.

په پای کې یو ځل بیا د علم د ډیوې په روښانه کولو کې د لوی الله Ψ څخه د توفیق غوښتونکی یم.

په احترام

ننیګالی "مصؤن"

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

درنو لوستونکو:دغه مونوګراف په کامل شکل نه دی ایډیټ شوی او له دې وروسته مو ډیر زیات تغیر او تبدیل راوستی دی،په دې خاطر مو مخکې له ډیزاین او ایډیټ ایلوډ کره ګویا دیو ځوان په درد وخوري او یو درې ټکي ترینه یاد کړي.

همدارنګه کولای شئ چې دنری وریا سکالرشیونو لپاره زما له یوټیوب چینل هم ننداره کړئ په پښتو ژبه دنړی دټولو بورسونو لارښود ویډیوګانې مې درته اپلوډ کړي دي صرف په لاندې شین رنګ خط یا لینک کلیک کړئ او په لسګونو لارښود ویډیوګانې وګورئ

https://youtu.be/I_fE6YOt2M8

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سريزه

امنيتي تدابير داجتماعي عکس العملونو يو لويه او اهمه برخه ده چې پرته داجتماعي عکس العملونو څخه ان تردي چې يو قانون بشپړ نه ګڼل کيږي دبشري ټولنې لپاره ډير اړين دي،په مختلفو قوانينو کې مختلف احکام ورته وړاندې شوي دي او هر هيواد دخپل ملي ګټو په نظر کې نيولو سره ورته په قوانينو کې ځای بيل کړی دی.

په دې مونوګراف کې به که دالله رضا وه نو دامنيتی تدابيرو په خصوصياتو باندې بحث وکړو او په ضمن کې به په ځينې نورو مهمو مسايلو چې دامينيتي تدابيرو سره ملحق دي او اړتيا ورته ليدل کيږي چې بحث پرې وشي انشاالله په ټولو مسايلو به رڼا واچول شي او دموضوع هر اړخ به وڅيړل شي.

دا چې امنيتی تدابير څومره بارز رول لري په يوه ټولنه کې ددې اهميت دقوانينو له زاوېې کتل کيږي،يعنې قوانين ډير مختصر او هغه مسايل پکې اچول کيږي چې دهغه څخه نور مهم مسايل نه وي،نو امنيتي تدابير هم ددې موضوعاتو له جملې څخه دي،چې قوانينو ورته ځای ورکړی خو بدبختانه زموږ دټولنې پنځه فيصده تعيلم يافته خلک هم ورسره بلد نه دي پکار ده چې په دې موضوع باندې پراخ بحثونه وشي کتابونه پرې وليکل شي او موضوع په کامل شکل دټولنې خلکو ته وړاندې شي،نو موږ هم وپتيله چې په دې برخه کې قلم وچلوو او لږ څه معلومات خپل ولس ته وړاندې کړو اميد لرم چې دموضوع يو څه حق مې ادا کړی اوسې او دا مونوګراف ستاسې په علم کې يو څو ټکی اضافه کړي په همدې هيله.

په اخره کې ضروربولم چې دقدرمن استاد ننګيالي مصوون څخه مننه وکړم چې سره دزياتو مصروفياتوېې هم زما مونوګراف ته غاړه کيښوده او دتوان څخه پورته همکاري يې راسره په دې مونوګراف کې وکړه استاد دې ژوندی وي،قلم دې تاند وي او همداسې دې رب راته خدای ځليدلی لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دموضوع ستونزه**

امنيتي تدابير يو نوې او په وروستيو وختونو کې راټوکيدلې موضوع ده،پرته له شکه هرکله چې يو علم نوی رامنځته کېږي نو دا يو څه وخت ته اړتيا لري ترڅو تکامل ته ورسيږي نو که دامنيتې تدابيرو تاريخ ته په افغانستان کې وکتل شي نو د۱۳۵۵ کال دجزا قانون څخه مخکې هيڅ تاريخ نه لري لومړی قانون چې په افغانستان کې يې امنيتي تدابيرو ته اشاره کړې هغه دسردار داود خان دوخت دجزا قانون دی چې په ۱۳۵۵ کال کې نافظ شوی دی،تردې وروسته چې کله دافغانستان وروستي ولسمشر محمد اشرف غني په وخت کې دجزا کوډ چې په ۱۳۹۶ کال کې نافظ شو هم ورته اشاره کړې ده نو ددې قوانينو په يادولو سره ددې موضوع لويه ستونزه داده چې تر اوسه پورې لا دامنيتي تدابيرو باندې تاليفات او مقالې تر ډيره نه دې نشر شوي کله چې په يوه موضوع کې کتابونه نه وې نو خود به هغه موضوع څېړل سخت وي،نو ددې ستونزې سره چې دا موضوع يې لري بيا هم موږ کوشش کړی چې ترخپله وسه پورې دموضوع حق ادا کړو که بيا هم ددې موضوع دکومې برخې حق په کامل شکل نه وي ادا شوی نو درنو لوستونکو څخه مخکې تر مخکې ډيره ډيره بښنه غواړم.

دموضوع اهميت:

پرته له شکه چې امنيتي تدابير ديوې ټولنې دبهبود او سلامتيا لپاره له اوبو او خورا ک ډير اړين دي نو موږ هم بهتره وګڼله ترڅو په دې موضوع لږ کار وکړو ترڅو.

**دڅېړنې تګلاره**

ټولې څېړنې چې په نړۍ کې ترسره کېږي، په دوه ډوله دي: کتابتوني او ميداني، نو دا موضوع کتابتوني شکل لري، او د کتابونو څخه په کښاستفاده شوې ده، هوائي په :ې څه نه دي ليکل شوي او همدار راز تر ډيره په کې د ليکونکي نظر هم له پامه غورځول شوی او د کتاب خبرو ته ترجيح ورکړل شوې ده، چې په وروستۍ برخه کې د کتابونو حوالې هم ذکر شوي دي.

**دڅېړنې پوښتنه**

هغه پوښتنه چې په دې څېړنه کې به ورته ومونډل شي هغه داده چې دامنيتي تدابيرو کومې ځانګړتياوې يا خصوصيات دي؟ او ددې هر حصوصيت بيا څه معنا ده همدا زموږ دڅېړنې اصلی پوښتنه ده او همدې ته به ځواب پيداکوو.

**د څېړنې حدود**

موضوع يوازې او يوازې د امنيتي تدابيور په خصوصياتو استواره ده، دا چې موضوع امنيتي تدابيرده، نو اړتيا لېدل کېده چې امنيتي تدابېر او نور اړونده ټول احوال ورسره ذکر شي، چې دا کار مو له مبجورئ څخه کړی دی او نور نو موضوع يوازې د امنيتي تدابيرو په خصوصياتو راڅي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پخوانیوڅېړنو ته کتنه

امنيتي تدابيرو په نوم په پښتو ژبه کې هيڅ کوم ځانګړی کتاب تراوسه پورې نه دي شايع شوی، يوازې د جزا پېژندنې په کتابونو کې ورته په يوه برخه کې ځای ورکړل شوې دی، نور کوم ځانګړی کتاب په پښتو ژبه او نورو ګاونډيو ژبو کې نشته، همدا راز امنيتي تدابيرو ځينې بحثونه د افغانستان د جزا کوډ په برخه کې د امنيتي تدابيرو اړونده مادو کې او د جزا کوډ په شرحو کې پرې بحث شوی چې ما په پښتو ژبه او په دري ژبه دوه شرحې وموندلې،او په دې مونوګراف کې مې ترينه استفاده وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست

| موضوع | مخ |
|---|---|

ډالی ........ آ
خلاصه ........ ب
مننلیک ........ ج
تقریظ ........ د
سریزه ........ 1
دموضوع ستونزه ........ 2
دموضوع اهمیت: ........ 2
دڅیړنې تګلاره ........ 2
دڅیړنې پوښتنه ........ 2
د څیړنې حدود ........ 2
پخوانیوڅیړنو ته کتنه ........ 3

## لومړی فصل

## عمومیات

لومړی مبحث:د امنیتي تدابیرو پیژندنه ........ 1
لومړی مطلب:لغوي پیژندنه ........ 1
دوهم مطب:اصطلاحي پیژندنه: ........ 1
دویم مبحث:د قوانینو یادونه ........ 2
دریم مبحث:د امنیتي تدابیرو تاریخ ........ 4
لومړی مطلب: د اسلام په تاریخ کې ........ 4
دویم مبحث غیر اسلامي هیوادونو کې د امنیتي تدابیرو تاریخ ........ 6

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورم مبحث:د جزا ګانو او امنيتي تدابير فرقونه........6
پنځم مبحث:د جزا ګانو او امنيتي تدابيرو ترمنځ مشابهتونه........7
شپږم مبحث:د امنيتي تدابيرو اړوند يوه نقطه........8
اووم مبحث:د امنيتي تدابيرو ډولونه........9
اتم مبحث:د امنيتي تدابيرو اهميت........9
نهم مبحث:د امنيتي تدابيرو نافذيدل........11

## دويم فصل

## لومړی مبحث:د امنيتي تدابيرو د خصوصياتو پيژندنه

دويم مبحث:لومړی ځانګړتيا........14
دريم مبحث:دويم خصوصيت........16
څلورم مبحث:د امنيتي تدابيرو دريم خصوصيت........17
پنځم مبحث:د امنيتي تدابيرو څلورم خصوصيت........19
د امنيتي تدابيرو ځانګړتياوې د جزا کوډ له نظره........19
پايله........26
وړانديزونه........27
مأخذونه........27

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی فصل

## عمومیات

**په دې فصل کې به دامنيتي تدابيرو اړوند ځينې مقدماتې او مهمو مسايلو باندې رڼا واچول شي انشالله.**

### لومړی مبحث:د امنيتي تدابيرو پيژندنه

د امنیتی تدابیرو دپیژندلو لپاره به یې په لغوي او بیا به یې په اصطلاحي لحاظ وپیژنو.

### لومړی مطلب:لغوي پيژندنه

امنيتي تدابير له دوو کلمو څخه جوړ دي چې مونږ دواړه کلمې بيلې بيلې معنا کوو:

الف: تامين عربي کلمه ده چې د ساتنې او حفاظت کولو او د ترون په معنا ده. [1]

ب: تدابير د اندازه کولواو د بريد کولو په معناه ده.[2]

دا چې د يو څيز لغوي څيړنه د هغه څيز معنا نه افاده کوي، نو له همدې امله لغوي څېړنه د يو علم د نوم مکمل وضاحت نه ورکوي، نو ځکه اصطلاحي تعريف د هر علم لپاره اړين دی چې د هغه علم ټول اړخونه په اصطلاحي تعريف کې روښانه کېدای شي.

### دوهم مطب:اصطلاحي پيژندنه:

امنيتي تدابير د افغانستان دجزا کوډ له نظره چې په 184 ماده کې تعريف شوې په لاندې ډول ده:

امنيتي تدابيرونه له هغه اقداماتو څخه عبارت دي چې د ذيصلاح محکمې لخوا د تورن يا محکوم د تربيت يا صلاح، له ټولنيز ژوندانه سره د هغه د بيا انطباق د تورن يا محکوم د خطرناک والي حالت په پام سره د جرم د پيښېدو او تکرار څخه د مخنيوي لپاره نيول کېږي او په فيصله کې ذکر کېږي.[3]

---

[1] . پوهاند احمد گل واثق، درانی . (1398ل). د افغانستان د جزا کوډ تحليل، يار خپرندويه ټولنه.

2 . وراندينی مرجع.

3 . د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د جزا کوډ (1396) رسمي جريده 184 ماده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان ملغا شوي جزا قانون چې په 1355 کال کې نافذ شوې ؤ، د امنيتي تدابيرو په اړه کوم مشخص تعريف نه ؤ شوې، بلکې په دويم فصل کې ورته اشاره شوې وه، چې د امنيتي تدابيرو ډولونه او اړوند ځينې نور مسايل په کې ذکر شوي ؤ، خو کوم مشخص تعريف يې ورته نه وو کړې.[4]

همدارنګه پوهاند حفيظ الله دانش په خپل کتاب ( جزا پېژندنه) کې په دويم فصل کې لاندې تعريف کړی دی:

امنيتي تدبيرونه د اجتماعي عکس العملونو يو ډول دی چې د جزاګانو بر عکس د اخلاقي او تنبيهي موخو درلودونکي نه دي، بلکې يوازې اصلاحي موخه او د ټولنې څخه د دفاع او حمايت موخه تعقيبوي، چې ټولو مسؤولو او غيرې مسؤولو مجرمينو باندې چې خطرناک او وخيم حالت ولري تطبيق کېږي.[5]

دا هغه تعريفونه ؤ چې د امنيتي تدابيرو ته وړاندې شوې ؤ، چې همدومره پېژندنه به اکتفا وکړي.

د امنيتي تدابيرو نومونه

امنيتي تدابير مختلف نومونه لري چې په هر ځای کې ترينه په مختلفو نومونو استفاده کېږي، لکه: پښتو کې ورته امنيتي تدابير، دري کې ورته تدابير امنيتي، انګليسي کې ورته Security measures اردو کې ورته حفاظتی اقدامات او عربې کې ورته تدابير أمنية ويل کېږي.

مطلب که هر ځای کې مو له دې لغتونو څخه هر يو لغت مخې ته راغلی نو، دا ټول د امينتي تدابيرو معنا ورکوي.

## دويم مبحث:د قوانينو يادونه

امنيتي تدابيرو يادونه يوازې په جزائي قوانينو کې کېږی، ځکه امنيتي تدابير په خپله اجتماعي عکس العملونه يو ډول دي، نو ځکه يوازې جزاء ترېنه يادونه کوي، په دې اړه د افغانستان پخواني جزا قانون هم له 121 مادې څخه تر 140 مادې پورې احکام ذکر کړي ؤ، يعنې د افغانستان د جزا قانون ټول 523 مادې ؤ، چې له دې جملې

4 . د جزا قانون (1355) رسمي جريده، دويم فصل.

5 . پوهاند حفيظ الله دانش. (1399). جزا پېژندنه، دريم چاپ، جلال آباد: مسلم خپرندويه ټولنه، مخ 61.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه 19 مادې امنيتي تدابيرو ته وقف شوې وې، يوه يادونه بايد وکړو چې د افغانستان د 1355 لمريز کال د جزا قانون په 1396 کال کې د جزا کوډ د نافذېدو سره ملغا اعلان شو، دلته مونږ ترېنه يوازې يادونه کوو[6]:

همدارنګه د افغانستان د وروستي جزا کوډ چې په 1396 کا لک ېنافذ شوې دی له 184 مادې څخه تر 206 مادې امنيتي تدابيرو ته وقف شوې دی، چې په لنډه توګه يې وايو، نو جزا کوډ ټولې 916 مادې لري چې له جملې يې 22 مادې امنيتي تدابيرو ته بيلې شوي دي. هېره دې نه وي چې اوسمهال دواړه قوانين غير نافذ دي، ځکه د جمهوريت د سقوط څخه وروسته ټول قوانين لغوه دي، او اوس مهال د اسلامي امارت د دويم ځل واکمنۍ لومړی کال دی چې تر دې دمه د جزا اړوند مشخص قانون نشته بلکې محکمې په ډيرو کمو امواردو کې فيصله کوي هغه هم د حنفي فقهې په رڼا کې، اميد لرو چې ډير د جزا اړوند يو ماډرن قانون نافذ شي.

ترڅو د محاکمو د پراګنده فيصلو مخه ونيول شي، او عدالت په سم ډول پلي شي، ځکه حنفي فقهه ډير پخوا تدوين شوې ده، او اوس زمانه بدله ده، کوم مسائل چې اوس پېښيږي هغه پخوا نه ؤ، که هر څومره نړۍ پرمختګ کوي، نو بايد قوانين هم ورسره ماډرن شي، او دغه ځانګړتيا يوازې په اسلام کې ده چې د هرې زمان او سيمې سره په کامل مشکل سره منطبق دی، د اجتهاد دروازه اسلام د همدې لپاره خلاصه پريښې ده چې هر وخت نويو مسايلو ته اړتيا پيدا شي، نو دغه نوي مسايلو ته د اسلام د اصولو په رڼا کې نوي احکام مستنبط شي، اګر که حنفي فقهه په اوس وخت کې ډيرې مظبوطې فتواوې، سرچې، او فقهې ليکل شوي دي، خو هغه د ټول عالم اسلام لپاره ليکل شوي دي، ځانګړي هېواد لپاره مشخص نه دي ليکل شوي، نو پکار ده چې د حنفي فقهې د مشهورو اثارو لکه: هدايه، ردالمختار، کنز الدقايق زنجاني، المبسوط، د نورو معترو اثارو څخه په قياس د افغانستان لپاره مختلف قوانين جوړ شي، ترڅو د نوي مادې له چټکو پرمختګونو سره يو ځای مل پاتې شو.

---

[6] دډيرو معلوماتو لپاره کولای شئ چې دګوګل سرچ انجن ته مراجعه وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دریم مبحث:د امنیتي تدابیرو تاریخ

مسلک او هر علم یو لړ پړاووه لري، په مخکې هر کله چې له دغه پړاوونو را تېر شي بیا د پوخوالي مرحلېتهر سیږي، همداسي امنیتي تدابیء چې نن سبا داسې په اسانه د کتاب په څو محدودو ورقو کې زده کولای شو، نو دې ډیر پړاوونه وهلي دي بلاخره د کتاب پاڼو ته راختلي دي، نو مونږ به هم د امنیتي تدابیرو چې د اجتماعي عکس العملونو یو ډول دی په دوو پړاوونو کې وڅېړو، لومړی به یې د اسلام په تاریخ کې او بیا د تاریخ اسلام څخه غیر مطالعه کړو.

## لومړی مطلب: د اسلام په تاریخ کې

اسلام یو دین دی په ادم علیه السلام پیل او پر رسول الله A باندې پای مومي، د دغه دین د تکمیل لپاره الله Ψ په مختلفو ژبو، قومونو، وطنونو (هېوادونو) او نومونو باندې خپل استازی د پیغمبرانو تر نوم لاندې د نړۍ هر قوم ته د هماغه قوم په ژبه رالېږلي دي، نو که مونږ د اسلام خبره کوو، نو د اسلام څخه یوازې د رسول الله A امت مرا دنه دی بلکې د آدم υ څخه تر رسول الله A پورې چې څومره پیغمبران راغلي ټولو ته اسلام وایي، او دې ټولو پیغمبرانو د یو هدف لپاره کار کاوه چې هغه د الله عبادت او اطاعت دی.

پههر حال اسلام کې که د جزا ګانو خبره و کړو، نو روښانه تاریخ لري د آدم υ د لومړۍ سهوې، جزا له جنت څخه راویستل ؤ، یعنې که آدم υ په جنت کې د غنمو بوټي ته لاس نه و ای وروړی نو هیڅکله به له جنت څخه نه وای ویستل شوی، نو د سهوې جزا د آدم υ او میرمنې ته یې ورکړل شوه، که له دې مخکې نظر واچوو، نو شیطان د الله د حکم څخه نافرماني وکړه، او جزا یې ملعون ګرځېدل او د ملایکې د استازي څخه د الله د دښمن لقب یې وګټل.

راځو د جزا ګانو برخه ته، چې ډیر عمیق پکې نه خو را به شو امنیتي تدابیرو ته چې اسلام کې یې مخینه وګورو:

اسلام ولې ښځې په حجاب مکلفې ګرځولي دي، او کورونو کې یې د ناستې امر ورته کړې؟ د دې وجه همدا ده چې که چېرې ښځې لوڅ مخ وګرځي، نو ټولنه به د زنا د هډو حیثیت غوره کړي، نسب به ورک شي، د خپلوۍ اړیکې به

(c) ketabton.com: The Digital Library

ختمې شي او ټولنه به د وحشي ځنګل شکل غوره کړي، دا چې د دغه پورته امراضو مخه ونیول شي، نو د جرم د پېل څخه مخکې اسلام هغه عوامل له منځه وړي، چې هغه عوړامل د جرایمو د سوق لامل ګرځي، یعنې که امنیتي تدابیر وګورو ځینې وخت د جرم څخه مخکې په یو شخص لکه ماشوم د ار لاحلوا ته وړل، چې د جرم آثار پکې وموندل شي، یعني دلته ماشوم جرم نه دی کړی بلکې اثار او علامات داسې ښکاري چې دابه جرم کوي، نو ماشوم یو محفوظ ځای ته وړل او دلته تربیه ورکول کېږي، دې عامل ته اسلم پوره ۱۴۰۰ کاله پخوړا حل لار راویستې او همدغه لړۍ چې ښځې باید حجاب مراعت کړي، که حجاب مراعت نه شي، که هر څومره یو انسان سپېڅلې وي، او د دنیا ټول علوم له ده سره وي، او بیا هم دا انسان لوڅ مخ او یا بې حجابه زنا ته وګوري، نو یقیني یم چې په سلو کې د ۸۰ فیصده انساناو به ښوئېږي، او کار به ترېنه ورانیږي، نو همدغه امنیتي تدبیر دی چې اسلام مخکې د جرم د وقوع څخه نیولې، ترڅو جرم پېښ نه شي.

دا د اسلام یو کوچنی مثال دی، که بل مثال وګورو که یو مسلمان ماشوم غلا وکړي، نو د اسلام له نظره په ده غلا حد نه تطبیقېږي، بلکې دې ته به تعزیر ورکول کېږي، چې هغه د قاضي واک دی، چې حالاتو ته ډول غوښتنه کله، هماغسې تعزیر به ورکول کېږي، نو دلته تاسو ولېده چې په لومړي مثال یې یو تدبیر مخکې د جرم څخه او دویم مثال کې بل تدبیر وروسته د جرم څخه ونیول شول، نو همدغه امنیتي تدابیر دي، چې اسلم په نظر کې نیولي دي، که تاسو د دې مونوګراف مطالعه دقیقه کړې وي نو په لومړي سر کې به مو لوستي وي چې د جرم د پېښېدو څخه مخکې او د تکرار د مخنیوي په خاطر نیول کېږي، د جزا کوډ له نظره خو دلته مو د اسلام له نظره دوه مثاله ولېدل چې جزا ګانې نه وي، خو د جزاګانو څخه مخکې پرې تطبیق شو، نو دا د اسلام له نظره د امنیتي تدابیر و لنډه تاریخچه وه.

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت جزا کوډ(۱۳۹۶) رسمي جریده ۱۸۴ ماده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### دویم مبحث غیر اسلامي هیوادونو کې د امنیتي تدابیرو تاریخ

غرب تر ۱۷ پیړۍ پورې ځنګلي ژوند کاوه، دوی دومره د عقل څخه خلاص و، چې تر نولسمې پیړۍ پورې یې د ښځې په انسانیت شکمن ؤ، چې آیا ښځه انسان دی او که کوم بل مخلوق؟ دوی جرم او د جرم د مخنیوي لپاره تدبیر نه پیژندل، کلیساګانو کې د پاپانو لخوا د خیټې څخه قواعد جوړ کړي ؤ او د دین جامه یې ور اغوستې وه، په ټولنیز ژوند کې فیوډالان په غریبو حکومت کاوه، انسان به یې د خرو په څیر کارول نه د جایداد خاوندان ؤ او نه د ارادې، بس تر دغه وخته پورې د غرب دغه حال ؤ بلاخره په اولسمه او له دې وروسته پیړیو دې د سیزار بېکاریا په شمول ، یو شمیر عالمان را پورته کیږي او جزا خلکو ته پیژني، وروسته دوی د فرانسې د انقلاب څخه یو څه خوبولي کېږي، او ورو ورو لږ بیدارېږي، او بلاخره دوی جرم پیژني او جزاګانې ورته ټاکي، او جزا ګانې له خپل سریو څخه د قانون تر حاشیو را رسوي، له دې څخه وروسته دوی قوانین جوړوي او د جرم د وقوع څخه مخکې او وروسته تدابیر پیژني، نو دغه دغرب حال ؤ، او دا د امنیتي تدابیرو لنډ تاریخ ؤ.

د ډیرو معلوماتو لپاره د پوهاند حفیظ الله دانش د جزا د حقوقو د تاریه په نامه یو تدریسي کتاب دی، هغه درسره ولولئ انشاء الله سر به مو خلاص شي.

### څلورم مبحث:د جزا ګانو او امنیتي تدابیر فرقونه

جزا ګانې او امنیتي تابیر دواړه د اجمتاعي عکس العملونو ډولونه دي، دا چې دا دواړه سره خپلو کې کوم توپیرونه لري، نو دا به په لاندې کرښو کې را خلاصه کړو.

جزا ګانې همېش په مسؤولو مجرمینو او امنیتي تدابیر ډیر کله په غیر مسؤولو مجرمینو او کله چې اړتیا شي په مسؤولو مجرمینو تطبیقېږي.

جزا ګانو کې د یو انسان حیات هم پای مومي لکه اعدام، خو بر عکس امنیتي تدابیرو کې هیڅکله د انسان ژوند له منځه نشي تلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جزا ګانې باید د جرم د اثبات څخه وروسته تطبیق شي، خو امنیتي تدابیر کله کله د جرم د وقوع څخه مخکې هم تطبیقیدای شي.

امنیتي تدابیرو لپاره معین وخت نه دی ټاکل شوې، په داسې حال کې د مجرم شخصیت او وضعې ته په کتو پرې موده ټاکل کېږي، په داسې حال کې چې په جزاګانو کې په قانون کې صراحتاً د هرې جزا لپاره اقله اکثره موده معین شوې وي.

امنیتي تدابیر د وخت او حالاتو ته په کتو ممکن تجدیر نظر شي، یعنې دوباره پرې کتنه وشي، په داسې حال کې چې جزا ګانو کې به قطعي صورت تجدید نظر نشته، او ټولې هغه جزا ګانې چې حکم پرې شوې وي لازم الاجزا دي، مګر کله چې هغه ټاکل شوي شرایط پوره شي چې هغه استثنایي موارد دي، بیا د تجدید نظر غوښتنه پکې کېدای شي.

جزاګانو کې تحقیري خصوصیت چې په دې کې ویره، ترس او حتا کله کله د مجرم فزیکي شخصیت هم تر شکنجې لاندې کېږي، وجود لري، ولې برعکس په امنیتي تدابیرو کې دا یو هم شتون نلري، بلکې امنیتي تدابیر د رماني شکل لري.[7]

د ځای له پلوه: جزا ګانو معمولاً به مجسونو او توقیف خونو کې تطبیقېږي په داسې حال کې چې امنیتي تدابیر په روغتونونو،دار الاطفال، دارالایتام او نورو هغه ځایونو کې چې قاضي یې وغواړي لکه په خپل کور کې د بل چا کور کې هم تطبیقولای شي.

## پنځم مبحث:د جزا ګانو او امنیتي تدابیرو ترمنځ مشباهتونه

وړاندې مو د جزا ګانو او د امنیتي تدابیرو ترمنځ په توپیرونو بحث وکړ، په دې برخه کې به د جزا ګانو او امنیتي تدابیرو ترمنځ په شباهتونو یآ هغه حالتونه چې دا دواړه پکې درته والی لري بحث وکړو:

7 . محمد افضل، ذاکر شرح کود جزا. (۳۹۸). جلد اول چاپ خانه سعید، مخونه ۳۳۵ – ۳۳۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حکم د صدور له حیثه: جزا ګانې او امنیتي تدابیر چې هر کله په یو شخص باندې تطبیقېږي نو باید د محکمې په قطعي حکم باندې پرې تطبیق شي، یا په ساده ډول چې محکمه په دې حکم وکړي، پرته د محکمې له حکم څخه نه په یو شخص جز او نه پرې امنیتي تدابیر تطبیقیدای شي.

د اصلاحي هدف له حیثه: جزا ګانې چې په یو شخص باندې تطبیقېږي نو د نورو هدفونو سره سره یې یو هدف د مجرم اصلاح ده، چې همدا هدف په امنیتي تدابیرو کې هم وجود لري، یعنې په دواړو کې کوشش کېږي چې د مجرم شخصیت اصلاح شي.

د پورته شباهتونو بر سېره د جزا ګانو او امنیتي تدابیرو ترمنځ دوه مشترکې ځانګړتیاوې هم وجود لري، چې هغه د قانونمندۍ اصل او د قضاء مداخله، دا به دواړو کې حتمي ده چې وجود ولري، د جزا کوډ ۱۸۴ ماده په دې اړه صراحتاً یادونه کړې چې امنیتي تدابیر د صدور لپاره قضائي مقامات وضع کړي چې همدې ته د قانونمندۍ اصل ویل کېږي، چې هم په جزاګانو کې او هم په امنیتي تدابیرو کې شتون لري.[8]

### شپږم مبحث:د امنیتي تدابیرو اړوند یوه نقطه

افغانستان کې تر اوسه پورې په جزائي برخه کې دوه مدون قوانین تصویب شوي چې یو دجزا قانون چې د داؤد خان په وخت کې په ۱۳۵۵ هـ . ش کې نافذ او بل د جزا کوډ چې په (۱۳۹۶) کال کې د افغانستان د وروستي ولسمشر محمد اشرف اغني په وخت کې نافذ شوی په دې دواړو کې د امنیتي تدابیرو اړونده مادې شته، اګر که اوسنیو حالاتو کې دواړه ملغا دي، خو بیا دافغانستان د۱۳۵۵ کال جزا قانون امنیتي تدابیرو ته امنیتي تدابیرونه او د افغانستان د ۱۳۹۶ کال جزا کوډ ورته تأمیني تدبیرونه ویلي دي، یعنې اګر که دواړه مترادف الفاظ دي، خو بیا هم بېلابېل نومونه ورته دواړو قوانینو استعمال کړي دي، چې دې ټکي ته مو باید توجو وي.

---

8 . محمد افضل، ذاکر شرح کود جزا (۱۳۹۸ هـ.ش). جلد اول چاپ خانه سیعد، مخ ۵۳۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اووم مبحث:د امنيتي تدابيرو ډولونه

د افغانستان وروستي جزا كود امنيتي تدابير په څلور ډولونو ويشلي دي چې په لاندې ډول دي: چې د جزا كوډ ۱۸۶ مادې ورته اشاره كړې ده.

د آزادۍ سلبوونكي امنيتي تدبيرونه: د ۱۸۷ مادې څخه تر ۱۹۲ مادې پورې.

د آزادۍ تحديدونكي امنيتي تدبيرونه: د ۱۹۷ مادې څخه تر ۲۰۲ مادې پورې.

د حقوقو سلبوونكي امنيتي تدبيرونه: د ۱۹۷ مادې څخه تر ۲۰۲ مادې پورې.

مالي او اقتصادي امنيتي تدبيرونه: د ۲۰۳ مادې څخه تر ۲۰۶ مادې پورې.

د دې ټولو پهّ هكله جزا كوډ تفصيلي بحث كړې دی، دلته يې اړونده حالات موږ نه شو بيانولای، ځكه د دې پوره تفصيل به د دې مونوګراف د حوصيلې څخه پورته خبره وي، ځكه دا هر ډول جلا جلا حالت او احوال لري، نو ځكه موږ يوازې په نومونو كې اكتفا كوو، او ډير اوږد بحث په كې نه كوو لوستونكي كولای شي د دې د هر ډول سره دجزا كوډ مادې ليكل شوي دي هملته دې مراجعه وكړي، ترڅو پرې په مكمل ډول پوه شي.[9]

## اتم مبحث:د امنيتي تدابيرو اهميت

پرته له شكه چې د اجتماعي عكس العملونو په برخه كې د امنيتي تدابير ډير بارز رول لري، ممكن د امنيتي تدابيرو نوم چې عام خلك واوري برداشت به يې دا وي چې چېرته پوليس د امنيت لپاره تلاشي كوي او اقدامات ورته نيسي، خو بالعكس كه چېرته يو حقوقپوه ته دا نوم واخستل شي، نو هغه به يې په ارزښت پوه شي، هغه د پښتو ژبې متل دی چې د زرو په قدر په زرګر ښه پوهېږي، په هر حال په لاندې څو شمارو كې به د امنيتي تدابيرو اهميت را خلاصه كړو.

كه چېرې امنيتي تدابير نه وای نو نيم جرمونه به پرته له جزا پاتې كېده، ځكه لوي، مجرمينو به ماشومان د جرم لپاره لېږل كله چې ماشومان د پوليسو لخوا نيول كېده نو دا چې ماشومان د جزائي دعوې لپاره په شرايطو پوره نه

---

9. د افغانستان اسلامي جمهوريت د جزا كوډ (۱۳۹۶) كال د عدليې وزارت نشراتي اركان، د ۱۸۶ څخه تر ۲۰۶ مادو پورې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي، او دعوى پرې نه شي اقامه کېدای، نو په دې کار سره به ماشومان خوشي کېدل، او له دې خلا څخه په لويو مجرمينو سوء استفاده کوله، نو دا چې امنيتي تدابير په ماشومانو هم تطبيقيداى شي، نو ماشومان هم د مسؤوليت په دايره کې ونښتل، او څه نا څه عواقب د خپل عمل څخه ګوري، نو ځکه امنيتي تدابير دلته ډېر ستر رول لري، که امنيتي تدابير نه وئ نو دلته به ډيره ستره خلا موجود وه.

ځينې وخت جزا ګانې د يو چا شخصيت نشي اصلاح کولای، اړتياوې چې شخص داسې ځای ته ولېږل شي چې هلته د هغه شخصيت نه بلکې صحت تر تداوی لاندې ونيول شي، لکه فرضاً: يو نشه ئي د جرم مرتکب شي، نو که دا نشه يي موږ عمر قيد هم کړو، نو په ټول عمر کې دده شخصيت نه جوړېږي، ځکه هغه نشه يي دی، خو ولی برعکس که همدا نشه يي موږ يو کال په يو روغتون کې بستر کړو او تداوي يې وکړو، نو په يو کال کې د ده شخصيت جوړيدای شي يعنې د دې نشه لپاره عمر قيد دومره مؤثر نه دی لکه يوکال معالجه چې دا د امنيتي تدابيرو پورې اهميت څرګندوي.

د جزا دايره يوازې په مسؤلو مجرمينو باندې راڅرخي، په داسې حال کې چې په ټولنه کې يوازې مسؤول مجرمين ژوند نه کوي، کله که ماشومان، ليونيان، شيخ فاني بوډاګان او نور فاقد الاهليت اشخاص جرمونه وکړي، نو د دوی لپاره خو جزا ګانې نشته، نو آيا دلته به اوس دوی آزاد پرېښودل کېږي؟ نه! د دې خلا د ډکولو لپاره امنيتي تدابير دي، چې نه ترينه ماشوم خلاصېږي، نه ترينه ليوني او نه ترېنه بل څوک بلکې په ټولو خلکو امنيتي تدابير تطبيقيدای شي، چې دا کار د جزاګانو د وس نه دی، نو دا هم د امنيتي تدابيرو ستر اهميت دی.

ځينې وخت مسؤل مجرمين چې جزا ګانې پرې تطبيقيږي، هغه هم اړتيا لري چې امنيتي تدابير پرې تطبيق شي، او پرته له دې شخصيت نه اصلاح کېږي لکه يو ځوان د غلا جرم کوي، دا غلا دې ځوان د بېکاری له امله کړې ده، اوس که په دې باندې حبس روان وي، که د حبس په جريان کې دې ته يو کسب وښودل شي، او مسلکي شي نو دا ځوان به تر ابده پورې بيا جرم ونکړي ځکه د مسلک خاوند شو، نو دلته اړتياوې ليدل کېږي چې په دې ځوان دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

امنيتي تدابير تطبيق شي ترڅو هم د بيکارۍ څخه خلاص شي او هم د کار خاوند شي، چې دا کار يوازې امنيتي تدابير کولای شي، دا کار د جزاګانو وس نه دی.

که موږ د جزا ګانو مؤثريت او د امنيتي تدابيرو مؤثريت وګورو نو څرګنده به شي چې د امنيتي تدابيرو مؤثريت ډير دی، ځکه جزا ګانې يوازې دا کار کوي چې د مجرم څخه د جرم انتقام واخلي، لکه، اعدام، حبس يا نورې جزاګانې دا يوازې انتقامي بڼه لري چې د مجرم په شخصيت کوم خاص اثر نه لري، ولې بر عکس امنيتي تدابير ډېر مؤثر دي ځکه هغه درماني او معالوجوي شکل لري، انتقام پکې وجود نه لري، هڅه کېږي ترڅو پکې د مجرم اساسي ستونزه حل شي لکه د کار د نشتون له امله هغه کسب ور وښودل يا نور، کله چې په جزائي برخه کې فرضاً د حبس څخه خوشې شو، نو جزا يا د جرم اغېزې همدلته ختم شو، خو ولې کله چې په يو چا امنيتي تدابير تطبيق شي، نو د امنيتي تدابيرو د خلاصېدو څخه وروسته د هغه نتيجه مرتب کېږي چې د يو شخص معالجه کېږي يا د کسب خاوند کېږي، نو مؤثر والي يوازې امنيتي تدابير لري، او دا کار بيا هيڅکله جزا ګانې نشي کولای.

دا او دېته ورته نور عوامل دي چې د امنيتي تدابيرو اهميت موږ ته را څرګندوي، چې څومره اهميت لري، نو د دې دلايلو په بنا ويلای شو چې امنيتي تدابير او جزا ګانې دواړه د ټولنې لپاره ضروري دي، يوازې په جزاګانو ټولنه هيڅ کله نشي اصلاح کېدای، ترڅو چې ورسره امنيتي تدابير نه وي.

### نهم مبحث:د امنيتي تدابيرو نافذيدل

د امنيتي تدابيرو د نافذيدو په اړه د افغانستان د پخواني جزا کوډ ۱۸۵ ماده دوه حالاته پيشبيني کړي او درېيم يې د امنيتي تدابيرو د صدور ځای وړاندې کړی، د پخواني جزا کوډ ۱۸۵ ماده داسې صرحت لري:

اوله فقره: محکمه هغه وخت د دې قانون په پيشبيني شويو تاميني تدبيرونو حکم کوي چې ثابته شي محکوم عليه د داسې عمل مرتکب شوی وي چې د قانون په حکم جرم پېژندل شوی وي او د تورن يا محکوم حالت، د ټولنې ګټو او مصالحو ته خطر وګڼل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویمه فقره: د تورن یا محکوم حالت هغه د ټولنې ګټو او مصالحو پر خلاف ګڼل کېږي، چې په حال او تیر (ګذشته) کې د هغه روېې څخه او یا د جرم د ارتکاب له حالاتو او علتونو څخه د جرم دواقع کېدو قوي احتمال متصور وي.

دا دوه حالاته د پخواني جزا کوډ له مخې د امنیتي تدابیرو د نافذیدو حالتونه دي، او همدا راز د همدې ۱۸۵ مادې درېیمه فقره بیا امنیتي تدابیر یوازې د محکمې تر حکم پوې منحصر کوي لکه درېیمه فقره وایي:

(محکمه مکلفه ده چې یوازې د دې قانون په پیشبیني شوو حالاتو او شرایطو کې په تامیني تدبیرونه حکم وکړي.[10]

په دې فقره کې د امنیتي تدابیرو لپاره دوه شرایط کېښودل شو، لومړی باید قانون پیشبیني کړی وي، او دویم د محکمې په حکم، چې پرته له دې د وو شرایطو څخه په هیڅ ډول امنیتي تدابیر نشي تطبیقیدلای، یعنې په خلص ډول یې که ووایو، نو یوازې محکمه کولای شي چې په امنیتي تدابیرو حکم وکړي او بس، بل څوک نشي کولای چې چانه امنیتي تدابیر ورکړي، چې دا ځانګړتیا به جزا ګانو کې هم وجود لري او د همدغه علت له مخې جزا ګانې او امنیتي تدبیر سره مشابهت لري.[11]

10 . د افغانستان اسلامي جمهوري دولت جزا کوډ (۱۳۹۶) رسمي جریده ۱۲۶ ګڼه ۱۸۵ ماده.

11 . محمد افضل، ذاکر، شرح کود جزا (۱۳۹۸) جلد اول چاپ خانه سعید صفحه ۵۴۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دویم فصل

په دې فصل کې به که د الله رضا وه نو دامنيتي تدابيرو په ځانګړتياوو مفصل او پراخ بحثونه وکړو.

### لومړی مبحث:د امنيتي تدابيرو د خصوصياتو پېژندنه

په وړاندې بحثونو کې مو د امنيتي تدابيرو اړوند په مقدماتي مسايلو پراخه بحثونه وکړه، دا چې زموږ د مونوګراف اصلي موضوع د امنيتي تدابير د خصوصياتو څېړنه ده، نو اړتيا لېدل کېده چې بايد مخکې د موضوع څخه په هغه مسايلو بحث وشي، چې موضوع ته لاره هواروي، يعنې که چېرې مو امنيتي تدابير نه وای پېژندلای، نو که چېرته چا دا مونوګراف وروسته د چاپ څخه خلاص کړ، او مستقيماً يې د امنيتي تدابيرو په خصوصياتو سترګې ولګېږي، نو هغه به په يقيني ډول ګنګس کېده، چې دا امنيتي تدابير پېژندل شوې نه دي، مفهوم په کې واضح شوې نه دی، اهداف او نور مسايل يې نشته او مستقيماً يې د خصوصياتو بحث پېل شوی، نو دا کار د موضوع په پوره څېړه باندې، د انسان شک پيدا کوي او دا يقين پيدا کوي چې ګوا کې د دې مونوګراف ليکوونکي ځان د موضوع څخه خلاص کړی او اخوا ديخوا يې د موضوع څخه ځآن ايستلی دی، په هر حال دا چې تسل مو وشو او د اصلي موضوع ته د راتګ څخه مخکې په مقدماتي بحثونو باندې مو سر خلاص شو، نو اوس به خپلې موضوع ته راشو، چې همدا برخه زموږ د مونوګراف محتوا ده.

چې خصوصيات سم وپېژنو نو لومړی به يې په عنواني شکل وليکو، او بيا به په ، عنوانو باندې جلا جلا څېړنه و کړو.

امنيتي تدابيرو خصوصيات د افغانستان د حقوقي برخې تر ټولو پياوړي استاد چې په حقوقي برخه کې په افغانستان کې له ده بل متخصص او قوي ستېه نشته يوهاند حفيظ الله دانش په خپل درسي کتاب جزا پېژندنه (چې دا کتاب د افغنستان په ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونو کې تدريسېږي) د امنيتي تداپيرو خصوصيات يې په څلور ډولوونو ويشلي دي چې په لاندې ډوي دي.[12]

---

[12] . حفيظ الله، دانش . (1399). جزا پېژندنه، دريم چاپ، جلال آباد: مسلم خپرندويه ټولنه مخ ۷۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library

1. د امنيتي تدابيرو نه مشقتي خصوصيت.

2. د امنيتي تدبيرونو نه تحقيري خصوصيت.

3. د امنيتي تدبيرونو د غير معينوالي خصوصيت.

4. او د امنيتي تدبيرونو د تغير او بيا کتنې وړوالي خصوصيت.[13]

پوهاند حفيظ الله دانش د امنيتي تدابيرو خصوصيات په همدغه څلورو کرښو کې راټول کړي دي، نو دا چې زموږ سويه د پوهاند صيب په مقابل کې ډيره ښکته ده، نو موږ هم مبجوراً د پوهاند صيب په پل باندې پل ږدو، او د هغه د نظر مطابق د امنيتي تدابيرو خصوصيات چې همدا څلور يې ذکر کړي دي، په همدې څلورو بحث کوو، او نوره موضوع راټولو، که په اخره کې بيا څه ملاحظات مو درلوده، نو دضميمې په شکل ترې په يو جلا عنوان کې ذکر کوو، اوس به د امنيتي تدابيرو په دې هر خصوصيت باندې جلال جلا بحث وکړ، ترڅو موضوع په مکمل ډول روښانه شي.

### دويم مبحث:لومړی ځانګړتيا

د امـنـيـتـي تـدابـيـرو نـه مـشـقـتـي خـصـوصـيـت

له دې خصوصيت څخه هدف دا دی چې امنيتي تدابير مشقت، زجر او تکليف نه لري، بلکې درماني شکل لري، مشقتي خصوصيت بيا به جزا ګانو کې موجود وي، يعنې ټولې جزا ګانې مشقت لري لکه د تحقيق په مرحله کې ممکن د پوليسو لخوا ووهل شي، يا د حبس په موده کې پرې جبري کارونه وشي، او يا هم نور هغه کارونه چې هغه مجرم ته اذيت رسوي، خو اما امنيتي تدابيرو کې بيا مشقت نشته شخص تکاليف نه ګالي بلکې شخص ته درماني شکل لري، د شخص عمر ته په پام پرې تطيقېږي لکه په ماشوم چې يو ولي ته ورکول کېږي ترڅو کور کې يې نظارت وشي، همدارنګه هغه کس چې د غلا د جرم مرتکب ګرځي جزا پرې تطبيقيږي، خو د جزا ترڅنګ پرې

[13] . پوهاند حفيظ الله، دانش، (1399). جزا پېژندنه، درېيم چاپ، جلال آباد: مسلم خپرندويه ټولنه، مخونه، 70 – 74.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امنيتي تدابير هم تطبيقېږي لکه د حبس په جريان کې ورته جبرې کسب کسب ور ښودل کېږي، په کسب کې د شخص شخصيت اصلاح کېږي

او هم د شخص راتلونکی جوړيږي، کله چې يو شخص کارو بار خاوند شي بيا هيڅکله غلا نه کوي، نو همدا کسب يادول کوم مشقت نه دی بلکې د شخص درملنه ده چې د غلا څخه کېږي، يو سوال دا پيدا کېږي چې ولې امنيتي تدابير مشقت نه لري؟ د دې ځواب دا دی چې هر کله چې جزا څومره سخته وي، هماغومره بد عواقب هم له ځآن سره لري، په دې کار سره مجرم نور هم په عقديي کېږي، او کوشش کوي چې د خپلو وهلو او شکنجو انتقام بېرته د دولت څخه واخلی، د جرم څخه پخوا به يې چې يو جرم کول په دې کار سره کوشش کوي په هر ډول چې کېږي خپل انتقام واخلي، په ټولنه کې له هيڅ راز جرم څخه صرفه نکوي، او شخص په لوی مجرم بدلېږي، چې ټول واقب د جرا ګانو دسختوالي او مشقت نتيجه ده، هر کله که دا جزا نرمه وای نو د مجرم څخه دومره په لويه کچه مجرم هيڅکله نه جوړيده، او اړتيا ليدل کيږي چې شخص په داسې شکل سره جزا ګانې ويني چې جزا هم پرې تطبيق شي او اصلاح يې هم وشي، چې به دې کا رسره ټولنه د جرمونو څخه پاکېږي نو ځکه امنيتي تدابير مشقت نه لري چې هغه څه اذيت ولري، انتقام را پاروي، او هغه څه چې درملنې په شکل تطبقېږي په نتيجه به يې دايمي او حتمي ده.

نو د امنيتي تدابيرو نه مشتقي هدف معنا دا شوه چې په امنيتي تدابيرو کې مشقت اذيت شخص او نور هغه مسايل نشته چې انتقام را وپاروي.

که څه هم چې امنيتي تدبيرونه مشقت نه لري خو بيا هم يوه کمه اندازه مشقت خامخا لري هغه دا چې امنيتي تدابير جبري بڼه لري، هر کله چې يو عمل په يو چا په زوره ترسره کېږي نو دا په خپله مشقت دی، که څه هم په په ډيره کمه اندازه اذيت به ولري، خو پرته له دې بله لار نشته، که يو شخص بلکل ازاد پرېښودل شي، نو په دې کا رسره هغه هيڅکله نه اصلاح کېږي، او بايد چې لږ څه مشقت هم شخص ووينې چې د خپل عمل انجام وګوري، ځکه شخص جرم کړی، او څوک چې جرم وکړي، نو بايد سختې هم ووينې، سختي هم بايد په داسې اندازه وي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شخص د انتقام د پاریدنې سبب ونه ګرځي، نو ثابته شوه چې امنیتي تدابیر په خپل ذات کې لږ څه مشقت هم لري.

**دریم مبحث:دویم خصوصیت**

د امنیتي تدابیرو نه تحقیري خصوصیت

د امنیتي تدابیرو دویم خصوصیت یا ځانګړتیا بیا هم د جزاګانو برعکس ده، چې هغه د امنیتي تدابیرو د عدم تحقیر خصوصیت دی، یعنې تحقیر، سپکوالی یا هم هغه څه چې په امنیتي تدابیرو کې نشته هغه کې دې مجرم د سپکوالي احساس وکړي، یا دې جامعه ورته په سپکه سترګه وګوري، معمولاً جزاګانې ټولې مجرم ته تحقیري شکل لري، یعنې مجرم ته ځان د ټولنې د نورو خلکو پر خلاف کم او سپک ښکاري، لکه د حبس جزا که د مثال په شکل ونیسو، هر کله چې په یو شخص باندې حبس عملي کېږي نو دا شخص د ټولنې له عینکو څخه سپک مقایسه کېږي، یعنې د بندي خطاب ورته کېږي، د هغه اولادونو ته د پلار د اعمالو له کبله په ښه نظر نه کتل کېږی، بندي سړي ته په ټولنه کې څوک قرض هم نه ورکوي زکات، خیرات او نور صدقامت هم د نورو خلکو په نسبت خلک بندي سړي ته نه ورکوي، دا ټول هغه مسایل دي چې د یو شخص د تحقیروالي باعث ګرځي، او همدارنګه له دویمې زاونې کله چې یو شخص بندي کېږي هغه ځان د ټولنې د نورو افرادو په نسبت کم محسوسوي، ځکه د بند په حالت کې که یو څوک مریض شي، خلک یې د مریضتیا څخه نه خبرېږي، څوک یې پوښتنې ته نه ورځي، اخترونو، میلو او نورو خوشالیو کې څوک مبارکي ورته نه ورکوي، د خوشحالیو په پروګرامونو کې څوک ورسره مشوره نکوي، حتا تر دې پورې چې دیو بندي په کور کې څوک نږدې واده کوي، یا ښځه کوي یا هم څوک ښځه ورکوي نو له بندي څخه پکې څوک مشوره نه اخلي، نو دا هغه مسایل دي چې بندي ځان د نور خلکو په نسبت کم احساسوي او د حقارت حس وي، چې د جزا ګانو عواقب دي، ولې خوشبختانه په امنیتي تدابیرو کې بیا تحقیري خصوصیت په ډیره کمه اندازه لېدل کېږي، ځکه امنیتي تدابیر یو څه تحقیري خصوصیت لري چې له دې څخه سترګې نشي پټېدای، چې دا هم د تطبیقوونکو اشخاصو له خوا رامنځته کېږي ولې په نظري لحاظ امنیتي تدابیر تحقیري خصوصیت نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلورم مبحث:د امنيتي تدابيرو درېيم خصوصيت

د امـنـيـتـيـت تـد ابـيـرو غـيـر مـعـيـنـو الـي خصوصيت

جزا ګانې به قوانينو کې مخکې له مخکې حالتونو او وختونو تعين شوي وي او ټول څومره وخت او چېرته په يو مجرم باندې تطبيق شي؟ ولې برعکس امنيتي تدابير د پرنسيب له لحاظ نه دي تعين شوي، يعنې دا نه دي ويل شوي چې په دې شخص باندې په کومه اندازه او چېرته امنيتي تدابير تطبيق شي؟ چې دا په امنيتي تدابيرو کې نه دي واضح شوي، معين والی تعين يا اندازې ته وايي، د جزا ګانو په اړوند که ووايو له مختلفو نګاه وو څخه تعين شوي لکه: د حبس د وخت له پلوه د افغانستان پخواني جزا کوډ په ۱۴۵ ماده کې حبس په لاندې ډولونو ويشلی دی:

1. قصير حبس: له درېيو مياشتو څخه تر يو کال پورې.
2. متوسط حبس: له يو کال څخه زيات تر پنځو کلونو پورې.
3. طويل حبس: له پنځو کلونو څخه زيات تر شپاړس کلونو پورې.
4. دويمه درجه دوام حبس: له ۱۶ کلونو څخه زيا تر ۲۰ کلونو پورې.
5. او لومړی درجه دوام حبس: له ۲۰ کلونو څخه زيات تر ۳۰ کلونو پورې.[14]

همدارنګه له نورو نګاو څخه هم طبقه بندي شوی لکه قباحتی، جنحوی او جنايتي، د جرم له نګاه څخه طبقه بندي شوی دی يعنې چې څومره د جرم اندازه لويه وي هماغومره يې جزا هم لويه وي، نو دا د جزاګانو بحث شو چې په قوانينو کې ورته هر څه معين شوي دي، خو اما برعکس امنيتي تدابير د پرنسيپ له لحاظه نه دي تعين شوي د دې حکمت دا دی چې د يوشخص د اصلاح اندازه نه ده معلومه چې په څومره وخت کې يوه نشه يي د نشې څخه عادي حالت ته را ګرځي يايو ماشوم څومره وخت کې اصلاح کېږي نو دهمدې امله تدابير نه دي معين شوي

[14]. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت جزا کوډ .(۱۳۹۶). رسمي جريده مسلسل نمبر ۱۲۶۰ له ۱۳۷ مادو څخه تر ۱۴۶ مادو پورې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلکې د مجرم شخصیت ته به ګوري چې په هر حومره وخت کې د اصلاح وړ وي، نو هماغومره امنیتي تدابیر پرې باید تطبیق شي.

دا به پرنسیب کې دي چې باید امنیتي تدابیر غیر معین وي خو ولې په عمل کې لېدل کېږي چې بیا هم امنیتي تدابیر معین دی او اندازه یې واضح ده، لکه د افغانستان پخواني جزا کوډ تاميني تدبیرونه په څلورو ډولونو ویشلي دي، یعنې معلومه شوه چې معین کړي یې دي چې جزا کوډ ۱۸۶ ماده داسې صراحت لري: د تاميني تدبیرونه په لاندې توګه دي:

1. د ازادۍ سلبوونکي تدبیرونه.
2. د ازادۍ سلبوونکي تدبیرونه.
3. د ازادۍ تحدیدونکي تدبیرونه.
4. د حقوقو سلبوونکي تدبیرونه.
5. مالي او اقتصادي تدبیرونه.[15]

نو ثابته شوه چې امنیتي تدابیر هم معین دي، په قوانینو کې او اندازه او اړوند ټول عواقب یې قوانینو ذکر کړي، نو دا چې ولې یې قوانینو اندازه تعین کړې؟ نو د دې ځواب پوهاند حفیظ الله دانش په خپل درسي کتاب کې د جزا پېژندنې کې د دې حکمت دا ښودلی چې د امنیتي تدابیرو د غیر معین والي خصوصیت د قضاتو د خود سرۍ او سوءاستفادۍ باعث ګرځي، یعنې بیا به ترینه قاضیان په خپله خوښه غلطه استفاده کوي، چاته به ډېر ټاکي چاته به کم ټاکي، یو هرش مرش به په قضائي نظام کې پیدا کېده، له همدې د محاکمو د خود سریو مخنیوی په پار په قوانینو کې کې معین شوی دی، چې تر دیره یې دا دلیل معقول دی، او په ځای یې چې باید امنیتي تدابیرهم د جزا ګانو په څېر معین وي.[16]

---

[15] . تېره مرجع ۱۸۶ ماده.

[16] . حفیظ الله دانش. (1399). جزا پېژندنه، دریم چاپ، مسلم خپرندویه ټولنه جلال آباد مخ ۷۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځم مبحث:د امنيتي تدابيرو څلورم خصوصيت

د امنيتي تدابيرو د تغير او بيا کتنې وړوالي خصوصيت

ټولې جزا ګانې چې يو ځل وټاکل شوې هغه کې بيا کتنه نشته، تغير او تبديل په کې نشته او کموالی او ډېروالی هم په کې نشته، خو برعکس امنيتي تدابير چې کله په يو چا باندې وټاکل شو، نو کېدلای شي چې په هغه کې ادون بدلون راشي، او بيا کتنه پکې وشي، د دې حکمت دا دی چې امنيتي تدابير معالجوي شکل لري، يو شخص چې په هر څومره وخت کې اصلاح شو بايد آزاد شي، ځکه په ده دا معغالجه د دې شخص د اصلاح لپاره ده، چې هغه هدف ومونډل شو، نو بيا د ده معالجه اختتام مومي، ځکه هدف ترلاسه شو، نو له همدې امله امنيتي تدابير بايد دا خصوصيت ولري چې هر کله يو شخص اصلاح شو نو بايد ازاد شي.

د دې خصوصيت څخه هدف دا شو چې هر کله اړتيا ولېدل شوه نو د محکمې په حکم بيا کتنه وشي، او په امنيتي تدابيرو کې تغير او تبديل راشي اګر که دا خصوصيت هم د جرايمو او جزا ګانو د قانونيت د پرنسيب سره په ټکر کې وي، خو بيا هم دا مجبوري ده او بله لار نشته چې په کې تغير او تبديل رانه شي، شخص د اصلاح څخه وروسته بيا بند ساتل د عقل څخه لرې خبره ده، نو اګر که د جرايمو او جزا ګانو د قانونيت د پرنسيب سره په ټکر کې هم دي، خو بيا هم يو اهم خصوصيت دی او بايد واجب التنفيذ شي او په عمل کې ثابت شي.[17]

### د امنيتي تدابيرو ځانګړتياوې د جزا کوډ له نظره

(۱) محکمه هغه وخت د دې قانون په پيشبيني شوو تأميني تذبيرونو حکم کوي ی ثابته شی محکوم عليه د داسې عمل مرتکب شوی دی چې د قانون په حکم جرم پېژندل شوی او د تورن يا محکوم حالت، د ټولنې ګټو او مصالحو ته خطر وګڼل شي.

[17]. تېره مرجع ۷۴ او ۷۵مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲) د تورن یا محکمو حالتهغه وخت د ټولنې د ګټو او مصالحو پر خلاف ګڼل کېږي چې په حال او تېر (ګذشته) کې د هغه له رویې څخه او یا د جرم د ارتکاب ل حالاتو او علتونو څخه د جرم د واقع کېدو قوي احتمال متصور وي.

(۳) محکمه مکلفه ده یوازې د دې قانون په پیشبیني شوو حالاتو او شرایطو کې په تأمیني تدبیرونو حکم وکړي.

د امنیتي تدابیرو ډولونه

تأمیني تدبیرونه په لاندې ډول دي:

۱. د آزادۍ سلبوونکي تدبیرونه.

۲. د آزادۍ تحدیدوونکي تدبیرونه.

۳. د حقوقو سلبوونکي تدبیرونه.

۴. مالي او قاصتادي تدبیرونه.

د ازادۍ سلبوونکي تدبیرونه

د ازادۍ سلبوونکي تدبیرونه، د رواني صحت په مرکزونو کې په رواني مرضونو د مصاب شخص په حجز محکومیت دی.[18]

محکمه کولی شي د څارنوال یا په رواني مرضونو د مصاب شخص د قانوني نماینده د وړاندیز پر بنسټ د اهل خبره له تصدیق وروسته، د رواني صحت په مؤسسو کې چې په دې منظور یې تخصص موندلی په رواني مرضونو د مصاب محکوم علیه په حجز حکم وړي.

**د حجرد مودې تمدید**

(۱) محکمه کولی شي د څارنوال یا په رواني مرضونو د مصاب شخص د قانوني نماینده په غوښتنه او د رواني صحت د اړوندې مؤسسې په تصدیق، د حجز موده د طبي متخصص هیئت غوښتنې ته په پام سره تمدید کړي.

[18]. د عدلیې وزارت، رسمي جریده، 1396 هـ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج د حجر مودې تمدید یا ختم د خپلواک طبي متخصص هیئت پهواسطه چې له دربیو تنو څخه لږ نه، صورت مومي.

د ریپوټ په وړاندې کولو درواني صحت د مؤسسې مکلیفت

(۱) د رواني صحت اړوند مؤسسه مکلفه ده په حجز د محکوم د صحي وضع رپوټ په هرو دریو میاشتو کې واکمني محکمې ته واندې کړي.

(۲) محکمه کولی شي د وړاندې شوي صحي رپوټ پر اسسا د حجر په لغو، حکم وکړي.

د محکوم اجبار یدرملنه

که چیرې په الکولو یا مخدرو موادو معتاد شخص د جنحې یا جنایت د جرم د ارتکاب په علت په حبس محکوم شي، محکمه کولی شي د مرتکبه جرم پر جزا برسېره، د عامې روغتیا د مؤظفې ادراې، پولیس، څارنوال یا د شخص د قانوني نماینده د وړاندیز پر بنسټ، محکوم علیه ته اجباري درملنه تجویز کړي، په دې صورت کې د درملنې موده د محکوم په حبس کې، محاسبه کېږي.

د تأمیني تدبیرونو له حکمونو څخه د مختلف مجازات

هغه شخص چې په دې قانون کې د درج محکوم بها د تأمیني تدبیرونو له حکمونو څخه تخلف وکړي، د شپږو میاشتو په قصیر حبس یا له پنځو زرو څخه تر شلو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا، محکومېږي.

د ولایت، وصایت او قیومیت، مصادرې، حجز او اجباري طبي تدبیرونو د سقوط په تدبیرونو پورې اړوند حکمونه له دې څخه مستثنی دي.

د ازادئ تحدیدوونکي تدبیرونه

محکوم هغه وخت په ټاکلي ځای کې د محکوم علیه په ګرځېدو را ګرځېدو د منع حکم کوي چې په هغه ځای کې د هغه شتون په قوي احتمال د جرم د ارتکاب د تکرار سبب شي.

194 ماده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

محکمه کولی شي د جنجې یا جنابت په جزا د محکوم علیه پر اصلي جزا برسېره په ټاکلو ځایونو کې له اوسېدو څخه منع ړي، په دې حالت کې محکمه د محکوم علیه شخصي یا ټولنیزه وضع په پام کې نیسي.

195 ماده:[19]

(۱) د دې قانون په 193 او 194 مادو کې درج د ازادۍ تحدیدوونکي تدبیرونه په لاندې توګه تطبیقېږي:

۱. په تنفیذي حبس د محکومیت په صورت کې، د محکوم بها د حبس له تېریدو یا د مجازاتو له عفو یا مشروطې خوشې کېدنې وروسته.

۲. په تعلیقي حبس د محکومیت په صورت کې د حکم د تنفیذ د تعلیق په اړه د محکمې له صادرېدو وروسته.

۳. د حبس په بدیل د  محکومیت په صورت :ې د حبس د بدیل په اړه د محکمې د حکم له قطعیت وروسته.

۴. په نغدي جزا د محکومیت په صورت کې د حکم قه قطعیت وروسته.

(۲). د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو تدبیرونو میعاد له شپږو میاشتو څخه ل او له درېیو کلونو څخه زیاتېدي نشي.

196 ماده: محکمه کولی شي د دې قانون په 194 او 195 مادو کې درج د محکوم علیه د ګرځېدو راګرځېدو یا اوسیدو د منع موده د محکوم علیه په وړاندیز یا د څارنوال یا د ده (شخص) د مدافع وکیل یا د محل زیست (داوسیدو ځای) د مسؤل په غوښتنه لغو یا کم کړي.

197 ماده: د حقوقو سلبوونکي تدبیرونه عبارت دي له:

۱. د ولایت، وصایت او قیومیت سقوط.

۲. په ټاکلي پېشه او حرفه له بوختېدو څخه محرومیت.

د ولایت وصایت او قیومیت.

---

[19] . د عدلیې وزارت، رسمي جریده، 1396 هـ ش، 195 ماده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

198 ماده: د ولایت وصایت او قیومیت اسقاط د نورو اشخاصو پر نفس یا مال د ولایت وصایت او قیمومیت اسقاط د نورو اشخاصو پر نفس یا مال د ولایت وصایت او قیمومیت له سلطې پیدا شوو اعمالو د محکوم علیه له محرومولو څخه عبارت دي.

199 ماده: محکمه په هغو حالاتو کې چې ولی وصي یا قیم د داسې جرم مرتکب شي چې د هغو په نوموړو دندو پورې د اړوند قانوني مکحلفیتونو اجراء اخلال کړي یا د ولایت، وصایت یا قیمومیت د دندې په اجراء کې د هغوی نه کفایت او توانایي ثابت کړي، د ولایت یا قیمومیت په اسقاط حکم کوي.

200 ماده: د صنعتي، تجارتي یا فني فعالیتونو له ترسره کولو څخه د شخص د منع په شمول، په پېشې او حرفې له بوختېدو څخه محرومیت دی، په دې شرط چې په هغو بوختېدل قانوناً د یوې رسمي واکمنې مرجع په اجازې پورې تړلي. (معلق) وي.

201 ماده: (۱) که چیرې شخص په پېشه یا حرفه پورې د اړندو مکلفیتونو له اخلال څخه را پیدا شوو جرمونو د ارتکاب په سبب، د حبس په جزا محکوم شي، محکمه وی شي هغه پر اصلي جزا برسېرله له اړوندې پېشې یا حرفې څخه محروم کړي، د دې محرومیت موده له یوې میاشتې څخه لږ او له یوه کاله څخه زیاتېدی نشي.

(۲) که چیرې د دې مادې په (۱) فقره کې درج محکوم علیه په اړوند پېشه د مودې له ختم وروسته، د لومړني (اولی) عین جرم یا مماثل جرم د قطعي حکم د ثادرېدو له نېټې څخه د پنځو کلونو په ترڅ کې دوباره مرتکب شي پر اصلی جزا برسېره په اړوند پېشه یا حرفه له بوختېدو څخه د هغه په محرومیت حکم وکړي، ددې محرومیت له یوه کاله څخه لږ او له درېیو کلونو څخه زیاتېدي نشي.

(۳) د دې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې درج محرومیت، د اصلي مجازاتو له تطبیق وروسته عملي کېږي.

202 ماده: که چیرې یو شخص د ترافیکي جرم د ارتکاب په سبب په جزا محکوم شي، محکمه کولای شي د ترافیکي جرم د تکرار په صورت کې هغه پر اصلي جزا برسېره د چلونې له حق او د چلونې د جواز له نووي کولو څخه له درېیو میاشتو څخه تر درېیو کلونو پورې محروم کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مالي او اقتصاد تدبیرونه

203 ماده: د مالي او اقتصادي تدبیرونو ډولونه عبارت دي له:

۱. د شیانو مصادره.

۲. د ځای (محل) بندول.

۳. د حقیقي شخص د فعالیت درول.

۴. د حکمي شخص د فعالیت درول.

204 ماده: که چیرې ضبط شوي شیان د هغو شیانو له جملې څخه وي چې د هغو شیانو له جملې څخه وي چې د هغو جوړول، استعمال، ساتل، واردول، صادرول، ورانديې کول، پېر یا پلور په خپل ذات کې جرم وي، محکمه د هغو په مصادرې حکم کوي، که څه هم چې نوموړي شیان د محکوم علیه ملکیت نه وي یا تورن له محکمې څخه برائت واخلي.

205: (۱) که چیرې کوم ځای د جرم د ارتکاب پخ خاطر اختصاص موندلی وي، محکمه په دې قانون کې په پیشبیني شوو جزاګانو برسېره له یوې میاشتې څخه تر شپږو میاشتو پورې د هغه د بندولو حکم صادروي.

(۲) که چیرې د دې مادې په (۱) فقره کې دجر محکوم علیه د محکومیت د دورې له ختمېدو وروسته د قطعي حکم د صادرېدو له نېټې څخه د پنځو کلونو په ترڅ کې لومړنی جرم دوباره مرتکب شي، محکمه کولی شي پر اصلي جزا برسېره له یوه څخه تر پنځو کلونو پورې د اړوند ځآی په بندولو حکم کوي.

(۳) که چیرې ځای د جرم د ارتکاب په خاطر اختصاص شوي نه وي خو له هغه څخه د جرم د ارتکاب په منظور کار اخیستل شوی وي، محکمه په دې قانون کې پر پیشبیني شوو جزاګانو برسېره په مؤقتي توه د هغه پر بندولو حکم کوي، دغه موده له یوې میاشتې لږ او له یوه کاله څخه زیاتېدی نشي.

(۴) د دې مادې په (۲،۱ او ۳) فقرو کې درج شوي حکمونه د نورو اشخاصو حقوقو چې د حسن نیت لرونکي وي نه اخلالوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

206 ماده: (۱) په ټاکلي کسب یا حرفه له بوختېدو څخه د شخص محرومیت هم د جرم د ارتکاب د ځای د بندولو په حکم کې شامل دی.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج د جرم د ارتکاب د ځای د بندولو په وصتر کې، شخص نشي کولی د جرم د ارتکاب ځای د جرم له واقع کېدو وروسته د عین کسب او حرفې پرمخ بیولو په منظور اقاربو یا نورو اشخاصو ته پرېږدي یا یې په جاره یا کرایه ورکړي.

(۳) د ځای مالک یا بل شخص چې د جرم د ارتکاب په ځای کې د عیني یا انتفاعي حق لرونکی وي، له جرمي عمل سره د نه ارتباط په صورت کې تر محرومیت لاندې راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پایله

د دې مونوګراف د اوږدو بحثونو او فرضیو څخه موږ لاندې خلاصه راوویستله چې په لنډو ټکو کې یې رانغاړو:

ومو لوستل چې امنیتي تدابیر د یوې ټولنې د بهبود او سلامتیا لپاره دیر اړین دي، ځکه د بشر په تاریخ کې هېڅکله داسې وخت نه دی راغلی او نه به راشي چې ټولنه دې د جرم څخه پاکه شي، پس چې ټولنه د جرم د پاکېدو څخه امکان نه لري، نو باید خلک دومره کوشش وکړي چې د جرایمو ګراف د د حد اکثر څخه حد اقل نه راښکته کړي، د دې ګراف راښکته کول د وقائې او معالجې څخه بغیر ناممکن دي، وقایه خو معلومه خبره ده چې قوانینو د ټولنې د وقائې لپاره حکمونه صریحاً ذکر کړي، لکه چې سره د وقایې بیا هم یو څوک جرم کوي، نو بیا یې معالجه پکار ده، او معاله یې بیا جزا ګانې او امنیتي تدبیر دي، هر کله چې دا دواړه په درست شکل په ټولنه کې تطبیق شي ۵۰ سلنه د جرایمو ګراف راکمېږی، نو د اوږدو بحثونو پالیه مو دا شوه چې امنیتي تدابیر باید حتماً تطبیق شي، او تطبیق لپاره یې باید مرکزونه په معیار برابر شي، او په درېیم قدم کې ورته فني او مسکلي اشخاص په داسې ډول وروزل شي چې مجرم د جزا ګمان پرې ونکړي.

بلکې داسې وانګیرې چې دا زما معالجه کوی، په دې کار سره به هم ټولنه اصلاح او هم د مجرمینو دوباره انتقام یا د پارېدنې لامل یا عامل ختم شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## وړ انديزونه

د پوره غور، څېړنې، پلټنې او ليکنې څخه موږ لاندې څو وړانديزونه لرو، ترڅو د ټولنې اصلاح لپاره د امنيتي تدابيرو له زوائي كار و کړو.

1. وړانديز مو له شته حاكم نظام نه دا دى چې بايد د ټولو څخه مخکې بايد د هېواد لپاره قوانين نافذ کړي، څکه امنيتي تدابير د قوانينو له لارې شايع کېږي، کله چې قوانين نه وي، نو هيڅکله به امنيتي تدابير نه رامنځته او نه تطبيق شي، کله چې په يو هېواد کې يو قانون نه وي نو قضايان به د خپل زړه فيصلې کوي، چاته به يو ډول امنيتي تدابير او چاته به بل ډول امنيتي تدابير ټاکي، چې دا د عدالت سره ستر ظلم دى.

2. د قانون د تصويب څخه وروسته بايد د امنيتي تدابيرو لپاره جلا ځايونه او جلا پرسونل وروزل شي، امنيتي تدابير د پوليسو د وس كار نه دي، بدبختانه چې زموږ په هېواد کې دير امنيتي تدابير په داسې ځايونو کې تطبيقېږي چې هلته له کوچني مجرم څخه لوى مجرم جوړيږي او لويو باندونو سره يو ځاى کېږي چې دا ټول عوامل د مسلكي اشخاصو نه شتون او امنيتي تدابيرو لپاره د جلا ځايونو عدم موجوديت دى.

3. د جزا ګانو په نسبت بايد په امنيتي تدابيرو ډير فوكس وشي څکه د جزا ګانو مؤثريت نسبت امنيتي تدابيرو ته كم دي، بايد په امنيتي تدابيرو ډير فوكس وشي.

4. دامنيتې تدابيرو لپاره بايد بېل قاضيان وټاکل شي، څکه هغه قاضي چې د اعدام فيصله کوي، هيڅکله د کوچني ماشوم د وضعيت څخه دا نه شي معلومولاى چې دا په څه اصلاح کېږي بايد امنيتي تدابيرو لپاره جلا محاكم او قاضيان ايجاد شي، ترڅو پکې داسې قاضيان وټاکل شي چې د ماشوم ليونى او نشه يې د حالت يا اروا پوهنې سره بلد وي.

## مأخذونه

په پورتني مونوګراف کې د قرآن عظيم الشان د مباركو احكامو بر سېره له لاندې مأخدونو څخه استفاده کړې ده:


1. د افغاانستان اسلامي جمهوري دولت جزا كوډ .()1396. رسمي جريده، پرلپسې 1260 ګڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


2. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د جزا قانون (1355) رسمي جریده، پرلپسې 347 ګڼه.
3. نور بها، ډاکټر رضا. (1334 هـ ق) زمینه حقوقي جزا عمومي، اول چاپ تهران، کتابخانه گنج دانش.
4. ذاکر، محمد افضل. (1398 ل). شرح کود جزا، جلد اول و دوم، اول چاپ، ناشر: بنیاد اسیا چاپ خانه سعید.
5. دانش، حفیظ الله. (1399 ل). جزا پېژندنه، درېیم چاپ، جلال اباد، مسلم خپرندویه ټولنه.
6. دراني، احمد ګل واثق، د افغانستان د جزا کوډ تحلیل اول جلد، اول چاپ، جلال آباد یار خپرندویه ټولنه.

له دې برسېره مو له لاندې الکترونیکي ادرسونو هم استفاده کړې ده:

7. https//fa.m.wikipeadia.org
8. https://tarjomic.com
9. https://fa.wikifaqh.ir
10. https://www.jadavalab.ir
11. https://en.bab.la
12. www.google.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**